مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۰۷/۲٤

# غزل

## په قومونو کې اوس خوار قوم د پښتون دی

له احتیاج سره مل شوی یې ژوندون دی
په قومونو کې اوس خوار قوم د پښتون دی

نـه پـوهـیږمـه چـې ځنګه بیمـاري ده
غـلامی سـره خوشال او په زنګـون دی

کـمـالـونـو د دنـیـا نـه خـبـر نـه دی
تل روان په زوږ رواج او زوږ قانون دی

د یـووالي فکر هیڅ ورسره نه شته
همیشه یې خوبش د ورور ځني بېلتون دی

پښتون هلـه ژونـد بربـاد کړ په جنګونو
چې توپک یې شوه لیلا او دی مجنون دی

زوی له پلاره ورور له وروره ګیله من دی
دا یې ژوند دا یې عمل دا یې مضمون دی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com